AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۱/۲۴

# ژوند ښکلی دی!

زه ښکلا پرست نه وم! له دې امله مې مینه ورسره نه وه کړې، چې ښکلې وه؛ هغه پوهه وه، ځیرکه او له هر څه پوره زه په خپل ژوند کې چا درک نه کړم؛ خو هغه وه چې زما احساس یې ولوسته، خپل زړه ته یې ښکته کړ او بیا یې خپله زنده ګي او زما دنیا پرې ښکلې کړه:

له هغې وړاندې مې دا دنیا زندان ګاڼه، هر وګړی رات جلاد ښکارېده، هر انسان را ته خوړونکی حیوان ایسېده او که درواغ و نه وایم ان له خپل ځانه مې کرکه کېده، داسې کرکه چې هنداره کې به مې ځان ولیده، د موسېدلو، خندا او خوشحالي ظاهرولو پر ځای مې هغه هنداره ماتوله. تل به یو ډول بد احساس راسره وه، همدغه احساس به له نورو جدا ساتلم او بالاخره یې اروایي ناروغ راڅخه جوړ کړ:

نه پوهېږم او لا مې هم په دې معما سره نه دی خلاص شوی، چې ولې له ځینو انسانانو سره تر کتلو وروسته داسې محسوسیږي، چې زما د ژوند منزل همدلته دی، د ژوند ټولوی لارې همدغه منزل ته راغلي او زما د سترې ارواح دمه ځای دلته دی، داسې لکه نېکو او صالحو مړیو ته قبر یا مسافر ته د خپل هېواد خاوره، چې مېشت یې په قدر نه پوهیږي؛ خو مسافر یې ان بوی حس کوي، له سینې سره یې نیسي د زړه تسکین پرې کوي او یا یې په سر بادوي ته وا په دې کړنې به له هر کړاوه د ابد لپاره اوزګار شي؛ (حتماً).

هغې زما له یوازینې (شیرینې) خور نه زما په اړه پوښتلي وه او بیا چې کله زه په بې هوښۍ کې تر روغتون ور وړل شوی وم، نو په ستاتسکوپ یې زما د نفرت کوونکي زړه اواز اورېدلی وه، چې لا هم په دغې ویړې دنیا کې درېبده. سپینه ویل به دا وي چې وایم هغې زه محسوس کړی وم؛ خو د نورو ناروغانو په څېر نه، ځکه په ما د (سپیشل کېس) نوم پروت و. چې په هوښ راغلم د هغې په لیدلو مې زړه او سترګو ټکان خوړلی و؛ خو بیا لکه سې د دماغو ځواب دا وه، چې دا هم د نورو په څېر د انسانانو له ډلې ده، د هغو له ډلې چې په ماشومتوب کې یې له ما نه زما ژوند واخیست، خپله مور یې راووژله، د میرې تر ترخې سایې لاندې ژوند یې راکړ او یوه په زړه سورې، کمزورې خور یې را ته پرېښوده، چې زلمی شوم زما ټوله شتمني یې زما میرنیو ورونو ته ورکړه، هغو ته چې ما یې له نومونو هم نفرت کاوه، هر هغه څه یې را نه وترورل چې زما خوښېدل، زه یې یوازې کړم، دومره چې د ګډ ژوند هېرولو هنر را نه هېر دی:

زه څنګه له هغې سره ژوند وکړم؛ آیا هغه زما د میرې په څېر یو ښځه نه ده؟ خیر اوس پېښه ده او له پېښې تېښته نشته، څه د پاسه درې میاشتې یعنې پوره سل ورځې به له همدې میرمنې سره د یو ناروغ په صفت تېروم:

لومړیو کې ورځې او شپې ډېرې اوږدې وې؛ خو وروسته نه پوهېږم څنګه ژر، ژر وخت تېرېده؛ هغې زما د زړه تل ته ښکته شوې وه، پوهه شوې وه، چې له دې ټولو نفرتونو سربېره چې زه یې د انسان په وړاندې لرم، دوه شخصیتونه شته چې له زړه مینه ورسره لرم (مور او خور). همدوی وې چې هغې زما په زړه کې ومونډلې، د طب له ټولو هنرونو کارولو وروسته یې په دې پوه کړم چې هره مېرمن میره نه وي، په خندا کې به یې ویل لکه زه؛ خو چې زه به ور برګ شوم وم؛ نو مثال به زه: (زه) نه لکه ستا مور او خور ته بدل شوی و.

وروستی لس ورځې پاتې وې له نورو ناروغانو سره یو ځای یې د شنو درو او غرونو په لور بوتل، چې په ذهن مو ښه اغېز وکړي. په یوه لوړه یې پټې سترګې ودرولم او د غرونو شاته د شنو ونو په منځ کې بهېدونکی طبیعت؛ زنګېدونکې زنده ګي او سندرماره قضا یې را وپېژندله، هغه وه چې په وروستی ورځې یې له دې جملې سره د انسانانو په وړاندې زما کرکه هم ختمه کړه؛ زه درسره مینه لرم، ته مې د ژوند ملګرې قبلوې؟

جولايي ۲۰۱۸
سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ